The Asia Foundation
AFGHANISTAN IN 2011
A Survey of the Afghan People

بسم الله الرحمن الرحيم

The Asia Foundation

# مطبوعاتي اعلاميه

## د ایشیافونډېشن له خوا د افغانستان د ۲۰۱۱م کال د نظر پوښتنې د پایلو اعلان

زیات شمیر افغانان وايي چې هیواد په ناسم لوري روان دئ؛
د امنیت، روغې جوړې، حکومتوالي او اقتصاد د مسألو په اړه د ۶۳۰۰ افغانانو د نظرونو ښکارندویه

**کابل، افغانستان – د ۱۳۹۰ د لړم څلورویشتمه** – په داسې حال کې چې نږدې نیمایي (۴۶٪) افغانان وايي چې هیواد یې په سم لوري روان دئ، له ۲۰۰۴ کال څخه راپدیخوا چې ایشیافونډېشن د افغانستان د خلکو سروې پیل کړې ده تر ټولو زیات شمیر ځواب ورکوونکي وايي چې افغانستان په نا سم لوري روان دئ. د ۶۳۴۸ افغاني اتباعو د نظرپوښتنې پر بنسټ چې نن د ایشیافونډېشن له خوا خپرېږي، له یو پر دریو برخې زیات (۳۵٪) ځواب ورکوونکو وویل چې هیواد په ناسم لوري روان دئ او د خپلې دغې بدبینۍ لوی دلیل یې نا امني (د بریدونو، تاوتریخوالي او تروریزم په ګډون) په ګوته کړه.

په ورته وخت کې دغه سروې د خلکو د ورځنیو اړتیاوو د رفع کولو په ډګر کې د پرمختګونو ښکارندویه هم ده؛ څرنګه چې ځواب ورکوونکو تر ټولو زیاته خوښي تعلیم او تحصیل، د څښاك اوبو او روغتیایي خدمتونو ته د لاس رسي څخه څرګنده کړه. د مخالفو وسله والو ډلو د انګیزو پلوي کول سږ کال په حیرانونکې توګه ټیټ شوی او د دغو سروې ګانو د لړۍ له پیل څخه خپل تر ټولو ټیټ حد ته ورسید. همدارنګه دري څلوېښت په سلوکې ځواب ورکوونکو د خپلې کورنۍ د مالي وضعیت له سمون څخه خبر ورکړ چې دغه شمیره د ۲۰۱۰ کال په پرتله لوړه ده.

<u>افغانستان په ۲۰۱۱ کال کې: د افغانستان د خلکو سروې</u> په افغانستان کې د ایشیافونډېشن اوومه سروې ده او دا په هیواد کې تر ټولو پراخه او هراړخیزه سروې ده. مخامخ مرکې د ۱۳۹۰د چنګاښ له یوولسمې د زمري تر لسمې پورې د هیواد په ۳۴ ولایتونو کې تر سره شوې. ددغې سروې بشپړ رپوټ په *http://asiafoundation.org/ag2011poll* انترنتي پاڼه کې پروت دئ.

د دغې سروې رپوټ په ټول هیواد کې د عامه افکارو د سنجولو یوه کره وسیله ده چې رهبرانو، عالمانو، بسپنه ورکوونکو مراجعو او پالیسي جوړوونکو ته ارزښتناکه معلومات په لاس ورکوي. برسیره پر دې، د دغې سروې رپوټ عمومي وضعیت، امنیت، روغه جوړه او مجدد ادغام، اقتصاد، پراختیا او خدمتونه، حکومتوالی، اداري فساد، سیاسي ګډون، عدلی – قضایی سیستمونه، ښځې په ټولنه کې، او معلوماتو ته لاس رسی هم راسپړي.

د ایشیافونډېشن عمومي رئیس ښاغلي ډیویډ آرنولد وویل: «امنیت د افغانانو لپاره تر ټولو ستره ستونزه ده.» هغه زیاته کړه: «افغانانو ایشیافونډېشن ته وویل چې امنیتي ستونزې او جګړې د هیواد د راتلونکې په اړه د هغو لید لوری اغیزمن کوي. خوشحاله یو چې افغانان تعلیم او تحصیل، د څښاك اوبو او روغتیایي خدمتونو ته د لاس رسي په برخه کې رضایت څرګندوي او پر دولتي بنسټونو باندې لوړ اعتماد ښیي.» نوموړي ددې په دوام وویل: «اوس لومړیتوب دا دئ چې دغو موندنو ته د افغانستان د دولت او نړیوالې ټولنې په راتلونکو پراختیایي پلانونو کې ځای ورکړل شي.»

د ۲۰۱۱ کال د سروې ځینې موندنې په لاندې ډول دي:

- په ۲۰۱۱ کال کې په ټولیزه توګه ۳۵٪ افغانانو وویل چې هیواد یې په ناسم لوري روان دئ چې د ۲۰۱۰ کال په پرتله ۸٪ زیاتوالی ښکاروي. د دغې بدبینۍ لوی لامل ناامني ده چې د ۴۵٪ ځواب ورکوونکو له خوا چې وايي هیواد په ناسم لوري

روان دی، څرګند شو. ور پسې یې اداري فساد (۱۶٪)، کمزورې حکومتوالي (۱۵٪) او وزګارتیا (۱۳٪) راځي.

- سږ کال د اقتصادي، سیاسي او امنیتي ننګونو سره سره نږدې نیمایي ځواب ورکوونکو (۴۶٪) وویل چې هیواد په سم لوري روان دی، چې د ۲۰۱۰ کال په پرتله یو خفیف کمښت ښکاري خو بیا هم د نورو کلونو په پرتله لوړ دی. د دغې خوشبینۍ لوی دلیل بیارغونه ده چې د ۴۰٪ ځواب ورکوونکو له خوا چې وایي هیواد په سم لوري روان دی، په ګوته شو. غوره امنیت (۳۹٪) او د معارف د سیستم سمون (۱۶٪) نور هغه لاملونه دي چې په ۲۰۱۱ کال کې د دغې خوشبینۍ د دلایلو په توګه ورڅخه یادونه وشوه.

- نا امني (د بریدونو، تاوتریخوالي او تروریزم په ګډون) د افغانستان تر ټولو لویه ستونزه وپیژندل شوه چې له یو پر درییمې برخې زیاتو ځواب ورکوونکو (۳۸٪) ورڅخه یادونه وکړه چې تر هغې وروسته بیا په ترتیب سره له وزګارتیا (۲۳٪) او اداري فساد (۲۱٪) څخه یادونه وشوه.

- په ۲۰۱۱ کال کې د سولې، پخلاینې او له مخالفو وسله والو ډلو سره د خبرو اترو په اړوند د دولت له هڅو څخه د ملاتړ کچه خورا لوړه (۸۲٪) پاتې شوه، او دا ښکاروي چې د افغانستان د خلکو قاطع اکثریت د افغانستان د مسألې د سیاسي حل پلویان دي نه د یوه بشپړ پوځي حل. د هغو ځواب ورکوونکو شمیر چې ویل یې د مخالفو وسلوالو انګیزې تاییدوي په ۲۰۱۱ کال کې خپل تر ټولو ټیټ حد ته ورسید څرنګه چې دغه ملاتړ له ۵۶٪ څخه په ۲۰۰۹ کې او ۴۰٪ په ۲۰۱۰ کې سږ کال ۲۹٪ ته راولوید.

- دري ځلوییښت په سلوکې ځواب ورکوونکو د خپلو کورنیو د مالي وضعیت له سمون څخه خبر ورکړ (په ۲۰۱۰ کال کې د ۴۲٪ او ۲۰۰۹ کال کې د ۳۱٪ په پرتله). اکثره ځواب ورکوونکو اساسي خدمتونو لکه ماشومانو ته د تعلیم او تحصیل (۷۳٪)، د څښاك پاکو اوبو (۷۰٪) او کلنیکونو او روغتونو (۵۷٪) ته له لاس رسي څخه رضایت ښکاره کړ، په دې ترتیب په دغو برخو کې د رضایت کچه په ۲۰۱۱ کال کې خپل تر ټولو لوړې کچې ته ورسیده.

- په ۲۰۱۱ کال کې په افغانستان کې د ښځو د تر ټولو لویو ستونزو په لړ کې د تعلیم او تحصیل د زمینې د نشتوالي یا بیسوادي (۲۵٪)، خپلو حقوقو ته د نه لاس رسي (۱۵٪)، کورنی تاوتریخوالی (۹٪)، اجباري واده/ولور (۸٪)، عمومي روغتیایي خدمتونه (۸٪) او بیوزلي (۸٪) یادونه وشوه.

ایشیافونډیشن د ۲۰۱۱ کال د سروې د موندنو د هراړخیز تفسیر او تحلیل لپاره د دغې سروې په څیړنیزه جزوه باندې کار کوي چې یاده جزوه به د ۲۰۱۲ کال په لومړیو کې خپره شي. د دغې جزوې په لیکلو کې به کورني او بهرني علماء او پالیسي جوړوونکي ونډه ولري.

دا سروې چې د ټولنیزو علومو د لوړو څیړنیزو معیارونو په رعایتولو سره تر سره شوې د ایشیافونډیشن د کار یو محصول ده چې د امریکا د متحدو ایالاتو د نړیوالې پراختیایي ادارې (USAID) له خوا تمویل شوه.

د دغې سروې مهمې موندنې، مکرر ډول پوښتل شوې پوښتنې او ځوابونه، او نور رسنیز توکي زمونږ په ویب پاڼه کې هم پراته دي.
همداراز تاسو کولای شئ چې مونږ سره د فیس بوك له لارې په http://www.facebook.com/Asiafoundation پته او تویتر له لارې په @Asia_Foundation پته مکاتبه وکړئ.

### په افغانستان کې د ایشیافونډیشن په هکله

ایشیافونډیشن په کال ۱۹۵۴ کې په افغانستان کې په فعالیت پیل وکړ او په کال ۲۰۰۲ کې یې خپل دفتر په کابل کې بیرته پرانیست. له هماغه وخت څخه راپدیخوا دغه بنسټ په پرله پسې توګه له افغانانو سره د هیواد په بیارغونې او د پراختیا د بهیر په ګړندیتوب کې مرسته کړې ده. زمونږ پروګرامونه د نوي اساسي قانون د تدوین او د رای ورکوونکو په نوم لیکنې، مدني تعلیماتو او د حکومت او رسنیو تر منځ د اړیکو په برخو کې د مرستو په ګډون په حکومتوالۍ، د قانون حاکمیت او مدني ټولنې تمرکز لري.

ایشیافونډېشن د حکومت له مهمو اجرائیوي ارګانونو، پارلماني چارو، کرنې او سیمه ییزې حکومتوالۍ سره اوږدمهالې او تخنیکي مرستې کوي. زمونږ نور پروګرامونه د ښځو په پیاوړي کولو او ښوونې او روزنې تمرکز لري.

**د ایشیافونډیشن په هکله**

ایشیا فونډیشن یو نا دولتی او غیر انتفاعی اداره ده چی د آرامه او سوکاله، پیاوړی، د عدل نه ډکی آسیا او آرام سمندر سیمې منځ ته راوړو ته ژمنه ده. ایشیا فونډیشن په آسیا کی د قوانینو او حاکمیت د ځواکمنولو، اقتصادی اصلاحاتو او پراختیا، چاپیریال، د ښځو د ځواکمنولو او سیمه ییزو همکاریو په برخه کی مرستی کوی. د خپلې ۶۰ کلونو څخه زیاتې تجربی په رڼا کی، ایشیا فونډیشن په آسیا کی د دولتی او غیر دولتی همکارانو سره د رهبری یا مشرۍ، د تاسیساتو په جوړونه، د افکارو او وړتیاوو د تبادلی او د کړنلارو په هکله د پلټنو په برخو کی په ګډه کار کوی.

ایشیا فونډیشن په ټوله آسیا کی ۱۸ سیمه ییز دفترونه لری چی سر بیره پر هغو یو دفتر یي په واشنګټن ډی- سی او مرکزي دفتر یی د امریکا په سانفرانسیسکو کې دی د کومو له لاری چی ایشیا فوندیشن په سیمه ایزه او ملي کچه د چارو پالنه کوی. ایشیا فونډیشن په ۲۰۱۰ کال کی له ۹۸ میلیونو امریکایی ډالرو نه زیاته بسپنه د پروګرامونو په برخه کی برابره کړی او همدارنګه یی د ۴۲ میلیونه امریکایی ډالرو څخه په لوړ ارزښت نږدې یو ملیون کتابونه او درسی مواد په ټوله آسیا کی ویشلی دی.

**د رسنیو د اړیکو پته**:


| | | | |
|---|---|---|---|
| په سانفرانسیسکو کې: امی اووال<br>بریښنا پته: aovalle@asiafound.org<br>تلیفون: +1-415.743.3340 | په سانفرانسیسکو کې: ایلین سیم<br>بریښناپته: esim@asiafound.ogr<br>تلیفون: +1-415.743.3318 | په نیویارك کی: برینت جونز<br>برېښنا پته: bjones@asiafound.org<br>تلیفون: +1-415.238.0969 | په کابل کی: مسیح الله ستانیکزی<br>برېښنا پته: mastanikzai@asiafound.org<br>تلیفون: +93 (0) 75 202 3558 |


###